ملل متحد

امنیت شورا

وېش: عمومي

۱۵ مارچ ۲۰۲۴

# ۲۷۲۷ (۲۰۲۴) شمېره پرېکړه لیک

## د امنیت شورا له خوا د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر ۵۱ نېټه تصویب شو

*د امنیت شورا،*

د افغانستان په اړه د خپلو پخوانیو پرېکړه لیکونو، په ځانګړي ډول ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) شمېره پریکړه لیک چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه ماموریت (یوناما) اوسنۍ ماموریت تنظیموي او ۲۶۷۸ (۲۰۲۳) شمېره پرېکړه لیک چې دغه ماموریت د ۲۰۲۴ کال د مارچ تر ۱۷ نېټې پورې تمدیدوي، *په یادولو سره،*

پر هغه مهم رول *په ټینګار* سره چې ملګري ملتونه به یې په افغانستان کې سولې او ټیکاو ته په وده ورکولو کې ترسره کول جار وساتي،

د افغانستان خود مختارۍ، خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتیا او ملي یووالي، او دغه راز د افغانستان له خلکو سره د خپل دومدار ملاتړ لپاره د خپلې پیاوړې ژمنې *په بیا یادولو سره،*

۱. د افغانستان له خلکو سره د ملګرو ملتونو د ملاتړ د اوږد مهالي ژمنتوب *قدرداني* کوي او یو ځل بیا د یوناما او د عمومي منشي د ځانګړي استازي له کار څخه د خپل بشپړ ملاتړ *یادونه* کوي، او په ساحه کې د هغوي پر دوامدار شتون *ټینګار* کوي؛

۲. له یوناما څخه د سپارل شویو دندو او لومړیتوبونو په تطبیقولو کې د هغې د روانو هلو ځلو *هرکلی* کوي؛

۳. د ۲۰۲۵ کال د مارچ تر ۱۷ نېټې پورې د یوناما د ماموریت د تمدید پرېکړه کوي، لکه څرنګه چې په ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) شمېره پرېکړه لیک کې مشخص شوي؛

۴. په ټول افغانستان کې د یوناما او د ملګرو ملتونو د نورو ادارو، وجهي صندوقونو او پروګرامونو د دوامدار شتون پر مهم اهمیت *ټینګار* کوي، او د اړتیا په صورت کې د اړوندو چاراواکو په ګډون، پر ټولو اړوندو افغان سیاسي فعالینو او شریکانو او دغه راز نړیوالو فعالینو *غږ کوي* چې له یوناما سره د هغې د ماموریت په تطبیق کې همکاري وکړي او په هیواد کې د ملګرو ملتونو او له هغوي سره د تړلو پرسونلو خوندیتوب، امنیت او د تګ را تګ آزادي ډاډمن کړي؛

۵. د دې *غوښتنه کوي* چې عمومي منشي دې په افغانستان کې د وضعیت او د یوناما د ماموریت د تطبیق په اړه شورا ته هرې درې میاشتې راپور ورکړي،

۶. *پرېکړه کوي* چې په فعال ډول موضوع تر خپل نظر لاندې ساتي.

---